الدرس الثانی
ثبوت د خول رمضان

دوهم درس
د رمضان ثبوت

درمضان دراتللوثبوت په دوه طریقوسره کیږی :(۱) د میاشت په لیدلو سره ، چې کله د رمضان میاشت ولیدلی شی ، نورروژه نیول فرض شی ، د رسول اللهﷺ فرمان دی :

« إِذَا رَأَيْتُمُ الهِلَالَ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا» متفق عليه،ترجمه : کله چې د (رمضان) میاشت ووینئ نو روژه ونیسئ اوکله چې د (شوال) میاشت ووینئ نو روژه ماته کړئ ، یعني اختر وکړئ ، د رمضان د میاشتي دپاره د یو رشتینی کس ګواهی کافی ده ، او د اختر دپاره د دوه عادلانو ګواهی ضروری ده .(۲) یا دا چه د شعبان د میاشتي دیرش ورځي پوره شی ، نو ورپسي ورځ به د رمضان اولنئ ورځ وی، ددي وینا د رسول الله ﷺدوجه نه :

«فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلاَثِينَ» متفق عليه.ترجمه : که چرته وریځ شی (د رمضان میاشت پټه شی)نو پوره کړئ شمیر ددیرشو ورځو(د شعبان) .

**روژه ماتول د چا دپاره جائز دی ؟** :(۱) هغه ناروغه انسان چه د صحت امید ئې کیدلی شی ، او روژه نیولوکښې ورته مشقت وی ، نوهغه له روژه ماتول جائز دی ، روستو به بیا قضائی اداء کړی، او هغه څوک چې مرض ئې همیشه او لا علاج وی ، د روغتیا څه امید ئی نوی نوهغه معذور دی ،که روژی ونه نیسي ، البته د روژو کفاره به ورکوی ، د یوی روژی په بدل کښې به یو مسکین ته طعام ورکوی ، او یا به نیم صاع غله ورکوی یعني تقریباً (۱.۲۵) پاؤ باندی یو کیلو.(۲) مسافر د خپل کلی نه په سفر روان شی، واپس خپل کلی ته راتلو پوری روژه ماتول ورله جائز دی ، ترڅوپوري چي یوځائی کښې د قیام اراده ئي نوی کړی .

(۳) حامله ښځه او یا ماشوم ته پیۍ ورکونکي ښځه هم روژه ماتولي شی ، پدي شرط چه خپل یادماشوم صحت ته خطره وی ، خو چی مجبوری ختمه شی بیا به قضائي راوګرځوی .(٤) هغه انسان چه دهغه عمر داسي حد ته رسیدلي وی چی روژه نیول ورته ګرانوی ، روژه ماتول ورله جائز دی، قضاء ورباندی هم نشته ، البته د یوی روژی په بدل کښې به یو مسکین ته طعام ورکوی .